هفته نامه
دجهاد هنداره
مرات الجهاد
لومړي کال (۱۴) ګڼه ، ۱۳۶۹ هـ ش دقوس (۲۸)

موج جدید بگیر وببند دردستگاه رژیم کابل

رژیم کابل چارصد تن ازافسران عالیرتبه دستگاه خودرا به اتهام همکاری با گروپهای جهادی محبوس وچارهزار تن دیگر را شامل لست سیاه خود ساخته است.

خبرگزاری «مهدیا» ضمن گزارش مطلب فوق افزوده است که افسران دستگیر شده ازارگانهای اردو ، خاد ، وخارندوی رژیم بوده وبه اتهام دست داشتن با گروپهای

درصفحه «۷»

مجاهدینو دکابل په جنوب کي دررژیم اته پوستي فتحه کړي

(په اتم مخ کي)

PROPERTY OF ACKU

الحاج مولانا جلال الدین حقاني له «جهادهنداره» سره په ځانګړې مرکه کې :

افغانانو ثابته کړه چي په جګړه کی وسلې اوپیسې مؤثرې نه دي ، مؤثر قوت ، ایمان عزم ، صبر ، شجاعت اوثبات دی

(۳) مخ کی

کشمیري مجاهدینو دهندوانو یوغلام مولانا مسعودي وواژه

کشمیری غازیانو دحزب الله ډلی مولانا مسعودی دهندی حکومت یومسابقه دارحامی اوعبدالله ملګری دهغه په کورکی وژلی دی مولانا مسعودی له هند سره دکشمیر په تړلو کی بنیادی رول درلود ، ویل کیږی چی هغه په دې وروستیو کی دکشمیر ګورنر«سکینه » په نوم یولیك لیکلی و چی په هغی کی یی له هند سره دخپلی وفاداری په دلیل خپل ژوندم دچه حطر لویدو یادونه کړی وه .

لیاقت بلوچ : داسلامي اتحاد حکومت به له مجاهدینو سره بی وفایي ونه کړي

ملتان دقوس (۲۳) مه : دپاکستان دجماعت اسلامی پارلمانی مشر لیاقت بلوچ دیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی ویلی : «تامسن » په روم کی دظاهرشاه سره ترلیدو وروسته هغه ته وړاندیزکړی

(۸) مخ کی

په البانیا کي دکمونستانو پر خلاف مظاهري وشوي

ویانا دقوس (۲۲) مه : ویل کیږی دالبانیا د«البان » په ښارکی په زرګونوتنو مظاهرو لاس پوری کړی اوځو دولتی موټریې داحتجاج په دول سوځولی – د«رویتر» خبری آژانس له نوموړی سیمی څخه په خپل رپوټ کی ویلی: پوځ دحالاتو دنورمالولو په خاطر په کوڅو او سړکو کی ګرځیدل پیل کړی دی .

قرغزستان استقلال خودرا ازحاکمیت شوروي اعلام کرد

جمهوري اسیایی قرغزستان شوروی آزادی خودرا اعلام نموده وبحیث آخرین جمهوری روسیه بسوی خودمختاری گام برداشته است .

مطبوعات به نقل ازوسایل اطلاعات جمعی روسیه گزارش

درصفحه «۷»

رئیس جمهورسابق بنگله دیش به جرم خیانت توقیف شد

پولیس بنگله دیش بدنبال تظاهرات اجتجاجیه مردم حسین محمد ارشاد رئیس جمهورسابق آنکشوررا گرفتار نموده است .

رادیو صدای امریکا به نقل ازوزیر داخله بنګله دیش گفته است که رئیس جمهورارشاد ، خانم وپسرش براساس قانون جدید مدت یکصد وبیست روزدرتوقیف بسر خواهند برد.

درخبر رادیوی مذکورامده است قراراست حسین محمد ارشاد به اتهام سؤ استفاده ازقدرت ، خویشخوری وانتقال دارایی ملی به خارج ازکشورمحاکمه گردد.

بنګله دیش دیوه دوامدار بحران په منګولو کی

(۲) مخ

قواي نظامي امریکا خلیج راترك نخواهند گفت

دف چینی وزیردفاع امریکا اعلام نموده با وصف آنکه اگر صدام حسین رئیس جمهورعراق مصالحه نموده وبه تمام فیصله نامه های ملل متحد گردن نهد بازهم جهت حفظ امنیت ونظم درخلیج باید ترتیباتی ضروری اتخازگردد.

هدف ازین سخن وزیردفاع امریکا اینست که کشورش بازهم حضورنظامی خودرا درمنطقه خلیج حفظ خواهد کرد.

موصوف گفته است که چوکات این حضوردرتفاهم با

درصفحه «۷»

دکمبودیا دمقاومت مشر دعالي ملي شورا درياست چوکی ونه منله

دفرانسی خبری آژانس رپوټ ورکړی چی دکمبودیا دمقاومت مشر شهزاده نورودوم سها نوك ویلی دی چی دی به هیڅکله دعالی ملی شورا ریاست قبول نکړی اونه به په هغی کی برخه واخلی .

پدغه شوراکی دینوم پن دحکومت شپږ تنه استازی اوهم

(۷) مخ کی

سرمقاله

اختلاف!

دجهاد لیکوته دبهرنیو قوتونو دنفوذ ګواښ

کله چی دافغانستان دجهاد په سیاسی او نظامی دګرونو کی دکوم مثبت او اغیزمن حرکت او پر مختګ په لار کی پل واخیستل شی نونړیوال استکباریا دخپلو حربو او تو طئیو دماشینونو څرخونه ګړندی کړی او له بیلابیلو لارو او چینلونو څخه یو لړنوی مانورې او شیطانی دسیسی په کارواچوی .

پدی وروستیو کی هم کله چی دقوماندانانو شورا خپل فعالیتونه سرتاسری اوګړندی کړل اوخورا ستر بریالیتوبونه اودملت بشپړتائید یې ترلاسه کړ نوله همدلته ذچی نړیوال استعماز ددی اغیزمن او بریمن حرکت له ویری داسی مانوری پیل کړی څووکولی شی پخپل

(۸) مخ کی

په اسلام کي دوروڼعریف داسي نه دی لکه چي غربیان يې کوي. داسلام پیغمبر (ص) ټولو دمخه له خپلو کافرو خپلوانو اوقوم سره جهاد پيل کړ

(الحاج حقاني)

دجهاد هنداره

مؤســـــس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتـأسیس کال : (۱۳۶۹) هــجــري شمـســـي

شف ، شف آخر شفتالو شو!!

لیکنه : محمد زبیر «شفیقي»

په دی وروستیو ورځوکی نړیوالو خبری اژانسونو دغه خبر په ډیر زوراوشورسره اعلان کړچی دافغانستان پخوانی پاچا ظاهرشاه په روم کی خپل سکرتریت پرانست اودامریکا حکومت «۱۵» ملیونه ډالره دچارودسمبالښت لپاره ورکړل ، په دی ډول شف ، شف اخر شفتالو شو اودافغانستان دبرمیال ملت داتلوال جهاد پر ضد هغه پټی دسیسی اوکرغیړنی نقش بلکل راڅرګنه شوی چی له پیله ددغه سپیڅلی جهاد په وړاندی پیل شوی وی اوظاهراً خوداسی ښکاری چی نورروس اوامریکا دهغه په رامنځ ته کولو کی کوم خنډ اوستونزه په مخه کی نه وینی، زموږمجاهد ملت ته په یاد دی چی دجهادمتعهدو قیادتونو لخوا کله کله دجهاد پر خلاف دروس اوامریکا یا په بله وینا دلویدیځ اوختیځ ښکیلاك له ګډ سازش اوشریکو دسیسونه خبری کولی هغوی به ددغه دسیسو اصلی محورظاهرخان دافغانستان پخوانی فاسد ، عیاش اوذلیل پاچا معرفی کاوه که څه هم دمومن ولس ځنو جهادی حلقوهغه وخت دظاهرشاه یادول دهغه مطرح کول او له خپله لاسه لویول ګڼل ، خوڅرګندك جهادی قیادت بیا دظاهرشاه په باب که څه ویل دهغه واقعیتونوله مخی ووچی دختیځ اولویدیځ داړه ماران توافق ته پری رسیدلی وو نه داچی هسی په اوازه پسی تللی ، هغوی داله پیله درك کړی وه چی که روس زموږدمسلمان ملت په وړاندی په پوځی ډګر کی ماته خوری بیا به هغه څوك چی ددغه شیطانی څواکونو پر شرمونو اوماتوپرده اچوی یوازی پخوانی پاچا وی .ځکه چی له یوی خوا هغه دافغانستان پرهیواد دپاچاهی اوږده سابقه لری اوله بلی خوا داسی څیره ده چی ملت دروس اوامریکا دګټوپرخلاف اقدام او عمل نه راګرځولی شی .

اوله کومی ورځی چی دظاهر شاه د یادونو خبره ګرمه شویده له همغی ورځی نه ځنو نامردانو دافغانستان دجهاد،مقاومت اوبی مثاله قربانیو دېت ،عزت او احترام په پام کی نیولو پرته دهغه ذلیل پاچا دحوصلو لوړولو په جهت کی هم ګام اخیستی او نن دظاهر شاه دراوستلو او یاراوتلو خبره تردی پوری راورسیده چی روس ،امریکا،مزدور نجیب اوڅه نوری حلقی په ګټه دهغه برا لا حمایت ته ولاړ دی .اوکه

گرسنگي ملت هاي روسیه ثمره هفتاد سال نظام کمونستي است

نویسنده : سمیع الله «تازه»

ما افغانها درمورد روسها اصطلاحی داریم تحت عنوان «روسهای گرسنه » این اصطلاح مانند سایراصطلاحات فرهنگی ، اجتماعی واقتصادی ازشناخت عمیق وبر داشت معقول مردم ما ازروسها ریشه گرفته است.

سیستم کمونستی طی هفتادسال حاکمیت خویش روسه ها راازنظرروابط اجتماعی واقتصادی به گرسنه های واقعی فرهنگی اواقتصادی مبدل نموده است ماشین هژمونستی یا تفوق طلبی کمونست های مسکونه کرملین که خواب وخیال اقاقی برمردمان وکشورهای جهان رابسر می پروانید ویکانه طریقه رسیدن باین خیال واهی رادرنیرومندی عضلات نظامی وتسلیحاتی شان میدیدند دیوانه وارتلاش کردند تابا بلعیدن ولاغر ساختن تمام امکانات زراعتی صنعتی اقتصادی واجتماعی ، کشورشان درلست کشورهای مقتدر،اولین باشد .

ماشین هژمونستی کمونست ها هفتاد درصد درامد ملی روسیه وسایر کشورهای محکوم کمونیزم دراسیااروپای شرقی راقرت نمود تمام استعداد ها وامکانات اقتصادی راصرف بخاطر اکتشافات وانکشافات تسلیحاتی بکار برد تا بواسطه ان هم مردم کشورپهناورروسیه راکه دارای ستن عقاید ومذاهب وبالاخره ملت های مختلف بودند درمحکومیت نگهدارد وازطرف دیگرنیرومندی تسلیحاتی به اشغالگری کشورها بپردازد بناءازنگاه اقتصادی تمام امکانات روسیه نظامی گردید ودربخش های دیگر

اوجګیري جنبش هاي ازادي خواهي درجمهوري هاي شوروي که ظالمانه وجابرانه تحت حاکمیت کمونستي وهژمونستي روسیه قرارګرفته اند نمونه هاي ازادامه پروسه تجزیه «امپراطوري سرنیزه وظلم کمونستي » میباشد وبهرشکلي که باشداین پروسه تامحو کامل چوکاتي که کمونست ها براي حاکمیت خویش برمردمان وکشورهاساخته بودند جریان پیدا خواهدکرد

چون صنعت وزراعت که چندان مورد توجه وطرف علاقه رهبران کمونستی نبود همچنان به تولید سنتی امتعه «کس نخر» ادامه دادند ومردم شوروی به اثر نبودن اموال بالمثل ناگذیر به استفاده ازان ها می شدند.

وهنگامیکه گربا چوف برقدرت رسید به ارزش ملیاردها روبل اموال پوسیده وکس نخرازگدامهاوذخیره گاهها بیرون ریخت .

هدف بحث گرسنگی درشوروی وکمبود قابل تشویش مواد غذایی درکشورروسیه شوروی است.

درحالیکه برای فریب اذهان عامه اعداد وارقام وفاکت های ازانکشاف وترقی دربخش صنعت ، زراعت ، اموراجتماعی وغیره ارایه می گردید اما هیچکس نمیدانست که هفتاد درصدبودجه درراه نظامی وتسلیحاتی سازی به هدر میرود که امروزباتفصیل

درصفحه « ٦ »

بنګله دیش دیوه دوامدار بحران په منګولو کي

دابوهارون لیکنه

په ۱۹۷۱کال کی چی کله له سختوکړکیچونو اواختلافاتو وروسته بالاخره یوواحد پاکستان په دوومستقلو هیوادونو ، پاکستان اوبنګله دیش باندی وویشل شو له هغی ورځی نه تقریباً دواړه هیوادونه پاکستان اوبنګله دیش له یو لړ مسلسل کشمکش اودوامدارجنجال سره مخ دی.

له یوی خوا په جنوبی اسیا کی ددغه دواړو اسلامی هیوادونو ترڅنګ اسلام دښمن اودهندوئیزم پر بنیاد ولاړمتعصب هندوستان دی چی په دواړوهیوادونو کی نا‌ارامیو اوناکراریو ته لمن وهی اونه غواړی په دغه هیوادونو کی سوله امن اواستقرار راشی.

هندله پاکستان نه دبنګلهـ دیش په جلاکولو کی هم بنیادی رول درلود اواوس په دغه دواړو اسلامی هیوادونوکی دناکراریو اونا‌ارامیو ځپو ته دپراختیا زمینه هم برابروی.

ځکه هند دټول اسلامی امت اوبیا په خپل ګاونډ کی دبنګله دیش اوپاکستان روایتی دښمن دی ،ځکه چی دپاکستان اوبنګال خاوره اصلاً دوی دهندوانو پلارنی حق بولی اواسلام اومسلمانانه پر دغو خاوروجبر او زورپه واسطه قابض ګڼی .

پاکستان دځنو مختلفو عواملو له امله چی زراعتی مناسب موقعیت اوله پخوانه دځنی صنعتی مرکزونو په درلودلو سره تربنګال نه په اقتصادی لحاظ اوسیاسی ثبات کی پیاوړی دی سره له دی چی په دغه هیواد کی هم مسلسلی نا‌ارامی موجودی وی خوبیا هم له بنګله دیش نه په څو ځله دښه ثبات اوپاخه اقتصادی بنیاد نه برخمن دی.

خوبنګله دیش بیا دهنداونواوبهرنیو لاسوهنو په وجه تراوسه په دی نه دی توانیدلی چی له جوړیدوترننه ورځی پوری له پوره سیاسی ثبات نه برخمن شی اوبایی ویجاړاوتباه اقتصادی نظام لرڅه سراوصورت ونیسی.

دبنګله دیش دنا‌ارامیو په لړکی دادی یوځل بیا هلته دجنرال محمدحسین ارشاد اته کلن نیمه پوځی رژیم ړنګ اویوعبوری حکومت چاری هیواددپخوانی قاضی القضات قاضی شهاب الدین ته وسپارل شوی .

دجنرال ارشاد ګوښه کیدل اوبیا دهغه بندی کیدل اودمحاکمی احتمال دابښیی چی دغه په بدمرغیو کی راګیر هیواد یوځل بیا دسختوازموینو ډګرته لویدلی ظاهراً خوجنرال ارشاد یو دیکتاتوراوپوځی حکمران ګڼل کیده اومبصرینو خودهغه مخالفین بیا په دووسترو ائتلافونو کی دراتلونکو

(۷)مخ کی

هند له پاکستان نه دبنګله دیش په جلا کولو کي هم بنیادي رول درلود اواوس په دغه دواړو اسلامي هیوادونوکي دناکراریو اونا‌ارامیو اورته لمن هم وهي

افغانانو ثابته کړه چې په جګړه کې...

دجهادهنداري قدرمنو لوستوالو !
ددغـــي اونـــیزي خـــبريالانو دروانـــو حـــالاتو اودافغانستان په جهاد پوري اړوندو وروستیو پیښو په باب له الحاج مولانا جلال الدین«حقاني» صاحب سره یوه خصوصي مرکه کړي ده چي دادی ستاسو ته وړاندي کـــو و: (اداره)

پوښتنه : محترم حقاني صاحب هیله ده چې عربي هیوادوته دخپل سفر او دهغه په اهدافواو نتائجو څه ووایی .

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم
نحمده ونصلی علی رسوله الکریم،
امابعد:

زما دسفراصلی مقصد دعمری اداءکول وو، وروسته مادخپل سفر په دوران کی دعربی هیوادونوله رسمی اودولتی مقاماتو، علمی شخصیتونو اوپه عربی هیوادونوکی استوگنوافغانانو سره هم وکتل ما ددغو لیدنو کتنو په ترڅ کی په ځینو غونډو او رسمی محافلو کی ویناوی هم وکړی اودافغانستان دجهاد اودمجاهدینوداوسنی وضعیت او حالت په هکله می هغوی ته بوره څرکندونی وکړی . ما هغوی ته واضح کړه چی دمؤمنوافغانانو جهاد اوس هم دروسانو دمزدورانو (خلقیانو -او پرچمیانو) پرضد هماغه شان ادامه لري لکه څنگه چی دروسانو په مقابل کی جاری ؤ. داجهاد دمخه هم دالحاد او فساد پرضد دټول عالم اسلام جهاد ؤاو اوس هم د ټول اسلامی امت جهاد دی او لکه څنگه چی دمخه دنړۍ په ټولو مسلمانانو ددغه جهاد مرسته او ملاتړ فرض ؤ اوس هم فرض دی .

هوږ په دې هیله یو چې اسلامی امت به موږ یوازی نه پریږدی اوپه هرلحاظ به زموږ مرسته او ملاتړ کوی .

ماچی له نژدې نه ولیدل دخلیج موضوع پر کویټ باندی دعراق یرغل او ددغه هیواد دشتمنی تباه کولو او هغه دخپل هیواد دیوی برخی په توگه اعلانولو دعربی هیوادو پرخلکو ژوره اغیزه کړی اووګړي یې له پوره اضطراب اوتشویش سره مخامخ ښکاریدل .موږچی په کومو غونډو اومحافلو کی گډون وکړ دخپلو خبرو په ترڅ کی می هغوی ته داواضح کړه چی تاسی باید دافغانستان دمؤمنو خلکو دجهاد اومقاومت نه دعبرت درس واخلی . افغانانو په تش لاس خو پر خدای (ج) دتوکل اوقوی ایمان له مخی دروس په څیر دیو لوی طاغوتی ځواک مقابله وکړه . دجهاد په پیل کی موږ وسلی اووسیلی نه درلودی خودخدای (ج) په نصرت، قوی ایمان او لوړعزم اواراده مو اتکاً کړی وه ، په ډیر لږ وخت کی مو دومره وسلې اوسیلی په غنیمت ونیولی چی ددښمن مقابله مو پری وکړای شوه اوچی روسانو په افغانستان باندې یرغل وکړ په مقابل کی یې زموږمقاومت نورهم پیاوړی شو ترڅو چی هغوی مو له خپلې خاوری څخه تیښتی ته اړ کړل اواوس بی مزدوران یوازی په څو لویو ښارونو او مرکزونو کی دمجاهدینو په محاصره کی راگیر دی اوهغه ورځ لری نه ده چی هغه ښارونه اومرکزونه هم دمجاهدینو په لاس فتحه شی.

تاسی خو زموږپه شان بی وسلی اوبی وسیلی نه وئ ، ډیره شتمنی مو درلوده اودهغی په وسیله مو ځان په هرحالت کی چمتو کولی شو . خوتاسی خپله شتمنی په غیر ضروری شیانو اودعیش اوعشرت په چاورلگوله اوپه پوره غفلت کی مو ورځی شپی سبا کولی .

تاسو کولی شول چی دملت پر همدغه شتمنی مو یو: قوی په هر ډول وسلو اووسیلوسمبال اردو جوړکړی وای چی دضرورت په وخت کی یی له اسلام اواسلامی خاوری او حدود څخه دفاع اوساتنه کولی.

خو تاسی خپله شتمنی دبلډنګونو په جوړولو اوپه غیر ضروری شیانو اوسیل اوسیاحت مصرف کړه ، که چیرې تاسی داکار کړی وای اویوه منظمه اوتربیه شوی اردو مو درلودای نونن به تاسی دی ته نه وای مجبورشوی چی دجگړی دخطر په وخت کی له امریکا ، انگلستان ، فرانس او ... څخه داسلامی خاوری اومقدسو ځایونو دساتنی لپاره پوځونه راوغواړئ . نن چی تاسی ته دجگړی خطر متوجه شوی ددی خطر ددفع کولو اوداسلامی خاوری دحفاظت لپاره باید تاسی داسلامی هیوادونو خصوصاً دافغانستان دمجاهدینو، مصر ، پاکستان ، ترکیې ، او... څخه اسلامی پوځونه راغوښتی وای . نه داچی تاسی کفری طاقتونه اوپوځونه راوبلل چی له دغومقدسو ځایونو څخه دفاع وکړی . کفری طاقتونه خو دخپل ځان په مقابل کی یوازینی دښمن اسلام اومسلمانان گڼي ، نوهغوی بیا کله بی غرضه اوبی هدفه دمسلمانانو سره مرسته کوی ، بلکه هڅه کوی چی دمسلمانانو ترمنځ دبی اتفاقۍ اورته لمن ووهی ، شخړې اولانجی رامنځ ته کړی اوځانته دمداخلی اولاسوهنی زمینه برابره کړی .

پوښتنه : په دی وروستیو وختونو کی ژنیو ته دنجیب سفراوبیا دهغه دغه ادعا چی ددی سفر په ترڅ کی یی له ځنی جهادی رهبرانوسره لیدنی کتنی کړي دي ددغی کتنی په باب ستاسی نظرڅه دی اودنجیب دسفر انگیزه څه وه ؟

ځواب: سره له دی چی زه هغه وخت دلته نه وم اوپه حالاتو پوره خبرنه یم ،خو مخکی هم داآوازی خپرې وې چی روسانو ددغسی لیدنو کتنو لپاره کومه زمینه سازی کړی ده اوایرانی کونسل دروسانو دمزدوررژیم اودځینو ضعیفو اوبی ارادی مسلمانانو چی ځانونه دجهاد په صف کی ولاړبولی . ترمنځ دمنځگړیتوب دنده درلوده . ویل کیږی چی داسی طرحه موجوده وه چی که امکان ولری دوی مستقیماً سره وگوری اوکه نه ددوی نمایندگان دی یوله بل سره خبری وکړی ښایی ایران ته دځینو مشرانو سفر هم دنوموړی طرحی یوه کړی وه ، خوداچی دهغی عملی اړخ څنگه ترسره شو پوره حالات نه دی څرگند . ترکومه چی خبره دپیر سید احمد گیلانی اونجیب دلیدنو کتنو پورې اړه لري له نښونښانو نه داسی ښکاری چی پدی رابطه یو څه شویدی داخبره له بی ، بی ، سی سره دواړو له مرکونه هم تریوی اندازې معلومیږی . کیدای شی چی له نوروسره یی خپله نه وی لیدلی اوله نمایندگانو سره یی لیده کاته شوی وی .

په هرحال جینوا ته دنجیب دسفر اوبیا بیرته افغانستان ته دستنیدوپه لارکی ایران تللو هدف واضح دی نجیب غواړی چی له یوی خوا په دغو منډو رامنډو اوهلو ځلو دخپل ځان په نسبت نړیوال ذهنیت بدل کړی اوبل داچی هغه شمیر افغانان چی له افغانستان نه بهر ته تللی اوپه جهاد کی یی برخه نه ده اخیستی اوکه یی څه ناڅه برخه اخیستی خو ایمان یی کمزوری وي، راضی کړی چی افغانستان ته لاړشی اودغسی بیانجیب ته ددی پروپاگند زمینه برابره شی چی دملت ملاتړ له ماسره دی اودغه دی فلانی اوفلانی له ماسره په حکومت کی همکاري کوي.

همدارنگه هغه له بلی خواغواړی چی په دغو ادعاگانو دمجاهدینو ترمنځ دشك اوبدگومانۍ فضا رامنځ ته کړی .

اوس روسان په دی ښه پوه شوی چی ددوی له دومره مرستو اووسیلو اووسلو سره سره نجیب نوردمجاهدینو په مقابل کی مقاومت نشی کولای اودوی په هیڅ شان دهغی دبقا تضمین نشی کولی نوپه دی لټه کی دی چی نجیب له قدرت څخه گوښه کړی اوپرځای دقدرت واگی داسی چاته وسپاری چی په هغه دوی مطمئن وی اویوداسی ائیتلافی اومخلوط حکومت جوړکړی چی ددوی مزدوران (خلقیان اوپرچمیان) هم محفوظ پاتی شی او په آینده حکومت کی دوی ته دلاسو هنو اومداخلی کولو زمینه هم برابره شی اوپه افغانستان کی داسی حکومت رانشی چی دوی ته خطروی. روسانو ته ددغسی حکومت دمشری لپاره ظاهرشاه مناسب ښکاری نوځکه داهلی ځلی کوی چی هغه ددی کار لپاره راضی کړی اوهم یو شمیر هغه ضعیف مسلمانان چی پر خدای توکل اوقوی ایمان نه لری ، دچوکیو اوشخصی گټو اوغرضونو په خاطریی دیو څه وخت لپاره په جهاد کی هم برخه اخیستی وی ، تیر باسی اوپه هغه ائیتلافی حکومت کی یی شامل کړی چی مشر یی ظاهرشاه اویا کوم بل فاسد انسان وی .

(٦)مخ کی

کفري طاقتونه خو دخپل ځان په مقابل کي یوازیني دښمن اسلام او مسلمانان گڼي ، نو هغوي بیا کله بي غرضه اوبي هدفه دمسلمانانو سره مرسته کوي ، بلکه هڅه کوي چي دمسلمانانو ترمنځ دبي اتفاقۍ اورته لمن ووهي ، شخړي اولانجي رامنځ ته کړي اوځانته دمداخلي اولاس وهني زمینه برابره کړي .

زه دواحد قیادت لپاره دالارغوره گڼم چي دیني علما ، دقوم مشران ، جهادي قوماندانان اوپه دین مین روشنفکران سره راټول شي ، په جهادي مشرانوفشارراوړي ،کیداي شي چي داکاردسیاسي ډگر اوجهادي مشرانو دوحدت سبب وگرځي

امپراطوري روسها دراستانه تجزیه قراردارد

مسکو : رئیس موسسه کی ، جی ، بی روسیه گفته است که قوای دستگاه مربوط اش جداً تلاش بخرج خواهند داد تاان تجزیه شوروی جلوگیری نموده نظم ودسپلین رادرکشوراعاده نمایند این هدف رئیس کی ، جی ، بی نمایانگر انست که دستگاه مذکوردربرابر تحولات رادیکال که سراسر انکشوررافراگرفته است مقاومت می نماید .

اطلاعات خبری حاکی ازانست که جمهوری های مختلف شوروی رااحساسات ازادیخواهی تجزیه طلبی ، اعاده حقوق ملی ، سیاسی واقتصادی مردمان وملیت های جدایی طلب فراگرفته است .

همچنان طبق یك خبر دیگر گرباچوف رئیس جمهورشوروی به جمهوریهای جدایی طلب گفته است که تشکیل نیروهای نظامی مستقل درجمهوری ها راکه تاثیرمنفی بروحدت نیروهای مسلح انکشوردارد تحمل نخواهد کرد سه جمهوری ساحل بالتیك شوروی قوای نظامی شوروی راقوای اشغالگر تلقی نموده وخروج انراازساحه جمهوری های مذکورخواستارشدند .

به همین ترتیب جنبش های ازادی خواهی درجمهوری های اوکراین ، اذربایجان ومولداری شوروی نیز روزتاروزاوج بیشتر کسب می کند .

جهادي ادب

امریکه چې کوي ظلم په دنیا کې
مونږ پرې اېښی ځکه نوم د سامراجي دی
نو د نیا کې د روس هم دغه کردار دی
نو دا روس زمونږه ولې کاکاجي دی

وپېژنئ
سید ستار شاه

خبر شئ مؤمنانو گل او خار وپېژنئ
نجیب دی کمونست دا تنگ مکار وپېژنئ

ظلمونه د نجیب زمونږ تاریخ کې دي لیکلي
جاسوس د «کا، جي، بي» خاین غدار وپېژنئ

پستو نرمو خبرو کې یې دام د مکر اېښی
سکه زوی د روسانو وفادار وپېژنئ

زمونږ په وطنوالو یې چلولي شکنجې دي
رنگ رنگ جنایتونه د خونکار وپېژنئ

اول زور، بیا زاری ده د کمونیزم دی شعار
اوس تول د کمونیزم دا اشعار وپېژنئ

نوکر د شوروي حلقه بگوش دی منافق
په یوزه کې یې پرې او مهار وپېژنئ

ورونو!
امان الله نصرت

راځئ د حق لپاره ځان کړو مال او ځان ورونو!
تر څو به گرځو در په در خوار او پرېشان ورونو!

راځئ چې تندر شو، توپان شو زلزلې راولو!
راځئ داور په خاو ندانو تورې شپې راولو!
راځئ د دین په مینه پوره شو سنگرته لاړشو!
راځئ وطن ته د خپلواک ژوندون وړمې راولو
راځئ چې جوړه کړو په غلیم د غم خزان ورونو!

راځئ چې پوره شو پخپل وطن ننگونه وکړو!
د استعمار پرضد په نره غورځنگونه وکړو!
د غلیمانو په کوره ونو سرې لمبې بلې کړو!
له استبداد او استکبار سره جنگونه وکړو!
دتن په وینو کړو خړوب خپل گلستان ورونو!

راځئ چې یو شو د سنگلاک سره زنځیرونه مات کړو
د بشریت په دښمنانو پښې لاسونه مات کړو
راځئ د ویښو په لار د روموده نیا په ستکل
دا د تورتم په قاصدانو او ربړونه مات کړو
راځئ چې ماتې زولنې کړو د زندان ورونو!

راځئ چې ځو د جنگ میدان ته ظالمان وسوځو!
راځئ د حق او آزادۍ دا دښمنان وسوځو!
راځئ د ژوند په زړه کې بلې کړو ډېوې
د بشریت د وینو تږي شرمښان وسوځو!
راځئ چې رڼک کړو دا د ظلم تور جهان ورونو!

که سر دیوښو نور به دلته خزانو نه نه وي
چوړ به سپرلی شي په هیڅ لوري به غمونه نه وي
دلته به نه راځي د غم او د ماتم وختو نه
سپېدې به وچوي نور به دلته ماښامونه نه وي
شي گران وطن به مو بیا ښاوي د جهان ورونو!

فولکلور

احمد له خپل ملگري وپوښتل: ته څه وخت ویده کیږې او څه وخت پاڅیږې؟
ملگري ځواب ورکړ: دلمر ځرک چې پر کړکۍ ولگیږي زما سترگې خلاصیږي.
احمد ورته وویل: ددې مطلب دادی چې ته ډېر دوخته پاڅیږې.
ملگري ځواب ورکړ: نه، داسې نه ده زما دکوټې کړکۍ دغروب خواته ده.

لنډۍ

تاو مې په زړه کې له سره خېژي
چې را په یاد شي د روسانو ورېظلمونه

زما په مخ لاړې راتوکيږي
که مې د ننگ کولې په شا خوږلې ونه

تورو په لاس تو پک په غاړه
راځئ چې واړه د جهاد سنگرته ځونه

په دین وطن به ځان قربان کړم
چې خپل کالی مې راته جوړه شي کفنونه

مکیه خدایږو که مې صبر یې
تا تار و مار کړل د روسانو قطارونه

رالېږونکی: وحید الدین صدیقي

سعید رهبر

نه خو نامه د سیاست پیژني
نه په مفهوم د ژوندانه پوهیږي
دا د سورمخي استعمار ایجنټان
دا نقلاب په معنا څه پوهیږي

پر کتاب تبصره

سبا به بیا کېږي باربري

کتاب په ډېره روانه اوادبي ژبه لیکل شوی لکه څنګه یې چې عنوان شاعرانه دی هماغسې شاعرانه عکس هم ورته انتخاب شوی.

په کتاب کې د (بې مخلص) په شا وخوا کې لنډې کیسې ځای پرځای شوي چې په هغوی کې دوه دلبنان دنامتو لیکوال «جبران خلیل» له لیکنو راژباړل شوي او دفلسطین دشهید پالونکی ملت حماسي اوویرونه پکې په ډېره ادبي بڼه انځور شوي دي.

د «قانع» صیب په لنډو کیسو کې زموږ دروان جهاد دویاړونو ویرونو، ژړاګانو، ځگیروېو (۵ مخ کې)

د کتاب نوم: سبا به بیا کېږي باربري
لیکوال: عصمت قانع
خپرونکی: دافغانستان داسلامي جمعیت دلیکوالو اووینا والو ټولنه
دخپریدو نېټه: د (۱۳۶۹)
لمریز کال دلړم میاشت
مخونه: (۱۱۷)
شمیر: ۲۰۰۰ ټوکه
قطع: ۱۸×۱۲ سم

تیره میاشت دپښتوژبې دپیاوړي ـــــ لیکوال اوشاعر ـــــ عصمت «قانع» دلنډو کیسو مجموعه د «سبا به بیا کېږي باربري» ترنامه لاندې له چاپه راووته.

لنډه کیسه
صدیقي

دارمانونو ځولي

د «نواباد !!» کلي دچنارو نو لوړولوړو ونو کلا بند کړی ؤ. دملایمه څپه به چې راوالوته دچنارونو پاڼو به داسې نغمه پیل کړه چې روح ته به یې خاصه تازه ګي وربښله. دکلي مخې ته یوه دپاکواوبوویاله بهیده، دویالې دوو خواوته دشنو اوولوونو ولاړې وی. دکلي شاته دغره پراخه لمن غوړیدلې وه اودکلي په خوکیلو متری کې بنې، کين اومخامخ ته دانګوروپراخ باغونه وو چې دکلي اوسیدونکو ـــــ

دژوند دمشغولا او دیوی ګولي مړي ترلاسه کولو وسیله وه.

دکلي کورونه دیوه بل سره نښتي اباد شوي و. بواځې د «حلیم» دوی کوردکلي څخه لر وتلی و، دکورشااوخوا یې دچنارونواوولو ګوری ونی ولاړې وی، ښه مضبوطه اونامی کلا یې وه پاخه پاخه دیوالونه یې وو، دکلا په لویه دروازه به چې ورننوتي دانګړ ښي لاس ته یې حجره وه حجرې ته یې ښي لوی اشه داری کړکی ورکړی وی. خواوس دوی داکړکی په غټو برستنو بندي کړی وی ترڅو دشپې له مخې ددښمن له بمبارد څخه لرڅه بچ وي، دکشف (۵) مخ کې

محمدظاهر «بابري»

... اوهغه ژوندي ورك شو

سهاروختي عجب خان له خوبه پاسیده رمه یې مخې ته کړه او دغره شنې لمنې ته روان شو کله چې دغره لمنې ته ورسیدو، پاس دیوی تیږی پرسر کښیناست په شپیلې یې خوله کیښوده اوپه یوه شیبه کې یې فضا سندریزه کړه، رمه دا ډول سریدله لکه چې نه یې غوښتل ددغو شنو ګیاوو ژوند ختم کړی پدی وخت کې دلیری نه دټانکونو غرهار یې تر غوږ شو اوده ته خپله شپیلې دټوپك شپیلې سنګاره شو او ځان یې داسی ګانه لکه

له ده سره هم وسله وی وروردمیوخواته روان شو غوښتل یې چې دیرغل ګرو قواو څخه ځان وژغوری دی لا په همدی سوچونو کې ډوب و چې دیرغلګرو جهازونه داسمان شنه فضا توره کړه اودده پاسه تاوراتاو شو، عجب خان سرګردانه یوی خوابلې خواته منډه واخستله ځان یې دیوه غټ کمر کې پټ کړه، جهازونوبمونه واورول، کسرونه ونړیدل اومیږی ټولې دغره په لمنه کې په وینو ولمبولی (۵) مخ کې.

دارمانونو څولي...

الوتکې گرځېدې خوپه دې شپه يې داسې ښکا پيل کړی وه چې په دووغوږوڅه نه اورېدل کيدل ، د«حليم » دوی په حجره کې وړه ډيوه لګيدلې وه ، ټول دډيوې ګرد چاپېره ناست وو په حجره کې دپښې ابښودلو ځای نه وه ، دملاصيب خبرې هماغسې جاري وې :

(ده بالا) کې خومې په خپلو سترګو وليدل چې دبيزوګانو په شان دټانکوبرسرناست وو اوبيا چې مخکې راغلم «قمرالدين » راته وويل هلکان ټول خبرکړه چې بيداراوسي ، داالوتکې چې دومره زياتې پر«نواباد» گرځي اوداقوا چې دلته راټول شوي ښايي صبا پر سيمه حمله وکړي...

ټولودملاصيب خبروته غوږنيولی و ډيره لويه قوه وه د«ده بالا» په سيمه کې خو ترلرې ځايونوله ټانکونو پرته څه نه ښکارېدل ، دې ظالمانو دانکورودتاکونو په منځ کې ټانکونه راوستي و. دسرك ترڅنګ باغونو تاکونه يې ټول ترچينو لاندې کړي وو...

دملاصيب خبرې لانه وې خلاصې چې حليم ورغږ کړ.

ملاصيب ! چرت مه وهه ... انشا الله داسې به تيښته اوړسوا ماتې سره به بېرته ستانه شي چې ټول عمر به يې يادساتي اوبيا به پدې سيمه برغل ونکړي ، نه ددې اورېدلي چې ويلې :

چې الله درسره مل نه وي رحسانه

که لښکرې درسره وې يك تنها بې

خبرې واورېدل شوې ، فکرونه سره وجنګول شول اودسهار څلوربجې يې دبيا راټوليدو لپاره سره ټنبه کړې لاسونه پورته شول دعا وشوه اوټول قرباني ته دځانونودچمتو کولو په خاطر سره روان شول ډيوه ورو، ورو سوځيده ، حليم ډيوه ځان ته رانږدې کړه اودهغې تنې رڼا ته يې دکلاشينکوف پر پاکولو پيل وکړ ، دکلاشينکوف مرمۍ يې ښې پاکې کړې ججوری يې ډکې کړې اوځان يې دجنګ لپاره چمتو کړ.

***** ****

حليم واقعاً چې حليم و ، تورشخ ږغ ويښتان، لوړه ونه ، غرڅه په شان توری ښايسته سترګې ، جګه پزه ، پراخ تندی ، دواوری په شان سپين غاښونه ، نوراني مخ اوځ چترالي پکول به يې پر سر و اهغه په ځوانه ځواني کې دسپين ږيري په شان خوی درلود ، درنده ناسته سنجيده خبرې ، دمشرانو احترام ، پنځه وخته جمعې لمونځ ، اود درندو خلکو سره ناسته ولاړه دده عادت ؤ ، هغه ته خدای ښه هستي ورکړې وه ، پلار يې دسيمې خان و ، دټولو سترګې هغه ته وراوښتې ، ښه ډوډۍ مارسړی ؤ خودده ناستې به تل له فقيرانوسره ؤ ، تل به خوړ بړ ګرځيد ، هغه په ژوند کې يوه مينه درلوده چې هماغه اسلام ؤ ،اسلام دده دژوند يواځنۍ مينه وه ، دهغه دايوه خبره تراوسه زما سترګوته درېږي چې ويل به يې : په ژوند کې يوارمان لرم ... کاش ! ترهغې ژوندی وم چې په افغانستان کې اسلامي حکومت په خپلو سترګو وګورم هغه ډېر قوی ايمان جسته ؤ اوددې قوی ايمان ترڅنګ بيا خدای داسې زړورتيا اوغيرت هم ورپه برخه کړی ؤ چې ددښمن پر قوا اوټانکونو وردانګل به ورته دسواروکپ هم نه ښکاريده ،

په دې ورځ هم چې هغه دقوادراتګ غږ اورېدلی ؤ بيخي څمکې ځای نه ورکاوه ، ګرد به تاويده ، کلاشينکوف به يې په لاس کې ښکته پورته کاوه اوچې کله يې ملګرو ورته وويل:

حليمه ! ته جنګ ته مه ځه ، پنځه ، شپږ ورځې دې دواده کېږي داسې نه چې شهيد شي اودارمانجنو شهيدانو په قطارکې راشې ... دې ورته په خندا شومادمورسره ژمنه کړې چې :

که په غزا کې شهيد نشوم

ادکې موری راته مه بسته حنوه

دهغه لاسونه تخنيدل چې کله به پرروسانو زړه تش کړي ځمکې دناستې ځای نه ورکاوه شپې زر ،زرتيريدلې ، ځان يې چمتو کړی و اوبواځې دټاکلې وخت انتظار يې ايست .

**** ****

پر ټول کلي ددوړوخړه ګردله راخوره وه ، ډير نږدې کوراوونه هم دګردلې دلاسه نه ښکاريده ، پر کلي باندې دقوی راتګ دوير اودارفضا حاکمه کړې وه ، داسې ښکاريده چې اسمان هم غواړي په دې شپه ددوی سره ملګرتيا وکړي، وريځو خپله توره پرده دستوروپر مخ راکش کړه اوبواځې داسمان په يوه نيم کونج کې ستوروستر‌ګکونه وهل کلي دوير اوخپګان کالي اغوستي زړ ،زړونه درزيدل ،هرچا ځان سمبالاوه ، دتيارې توره لمن دشپې په پخيدو سره لا توريده چې دکلي ، سحر ، ماشومانو اوسپين ږيرودغرونو پر لورحرکت وکړ بدحالت ؤ ، ژړا ؤه ، کوکې اوفريادونه ، دټولو پر سترګو داوښکو رودونه روان ؤ ، خو دحليم دموركريوان دزياتو اوښکو نه لوند شوی ؤ پر لاره تللې نه شوه ، سلګې يې وهلې ، دحليم د«ناوې !!» خواته به يې ورورکتل اواوښکې به يې په ټيکرئ پاکې کړې ، سترګوته به يې دحليم سره دخدای په اماني صحنه ودريده :

هلته چې حليم دسترګو لاندې غلی ، غلی کله دې ته اوکله خپلې ناوې ته ليدل ، سترګو کې اوښکې راغلې اوخدای په اماني يې واخيسته ، مورې ! دعا راته کوه ... مورې يې پرې غږکړ: ته رانږدې شه ، خوځلې ښکل کړ په سترګو کې يې اوښکې راغلې ، سترګو ته يې ټيکرې ونيوه اومخ يې څنې واړاوه .

دحليم دناوې !! ښنو ته دحيم يادونو هتکړې وراچولې وې ، خو ګام يې چې واخستل بيا به ودريده دشونډو لاندې به يې څه وويل : وی ... ډزې شوې وبه دريده ، څلورخواته به يې وليدل ، غوربه يې ونيوه بيا به رهي شو دځان سره به وبوګنيده :

خدايه ته يې په خپله پناه کې وساتې ...

*** ***

حليم په ټاکلي وخت ځان خپلو ملګروته وررورساوه ، دويالي غاړې ته ټول سره راغونډ شول مجاهدين به دريوډلو وويشل شول هرې ډلې کې به شپږ تنه ؤ ، هرې ډلې ته خپل سنګرونښودل شو خومخکې تردې چې دخپلو مورچو پر لورحرکت وکړي اودسونه يې تازه کړل ،سخته يخني وه ،دباد هره څپه به چې راوالوته دونو څخه به يې خزان وهلې پاڼې راجلاکړې اوهغه به په نڅا ، نڅا پرځمکه رالويدې دحليم دوې ډلې دخپلې مورچې پرلورحرکت وکړ هغوی ته د«عاشقانو غره » مورچه رسيدلې وه ، په لاره کې عجيب حالت وهريو په خپلو چرتونو کې ډوب و ، دحليم سترګو ته به دموراوناوې داوښکو ډکې سترګې حائل شوې ، دځان سره به وبوګنيد : چې اوس به چيرته رسيدلې وي ... خدای دوکړي چې دلمر تراراختو دمخه ځای پرځای شي ،چانته يې سمه کړه ، کلاشينکوف يې ښې لاس کې سه کنټ کړ اوګاموته يې کړندی کړل ، په لس ، پنځلس دقيقو کې خپلې مورچې ته ورسيدل ، درسيدو سره سم حليم پر ملاصيب غږکړ:

ملاصيب ! لمونځ نه کوو ؟

ملاصيب دخولې سوړاسويلې ويوست:

رښتيا يې ويلي چې کلي په انسانانو ښايسته وي ، اوس ګوره نه اذان اوريدل کيږي اونه دچرګانوبانګونه ...

دحليم جذبات راوپاريدل تك سورشو:

يره ملاصيب ! زه خووايم ښه په زوره اذان وکړه چې څلورکونجه دنيا يې واوري ...

ملاصيب اذان وکړ، لمونځ يې پر جمعه وشو اوهريو په خپل کاربوخت شو چا تيرې راټولولې اوچا دمورچې جوړولو لپاره ځای کينده ، حليم قبلې ته مخامخ کيناست دجيب څخه يې قرانکريم راواخيست اوغوښتل يې تلاوت وکړي خو لاس قرانکريم سم نه و خلاصي کړی چې ترڅنګ يې دکلاشينکوف دوه ، درې ضربې شوې ، سترګې جګې کړې ليدل يې چې يوروسي دده خواته په منډه راروان دی ، دکلاشينکوف دوه ، درې ضربې يې ورباندې وکړې خوروسي ونه لويد همداسې پرې ورمنډه کړه اوپه منډ يې سره يې روسي څملاوه ، کلاشينکوف يې ورڅخه واخيست اوپر سر ، سر يې واهه غوښتل يې مرۍ ته يې لاس کړي چې دکين لورې درسام مرميو يوه ضربه دده پر لورراغله ، پرسرولګيداوولويد ، پر ګرايوان يې دوينو رودونه راروان شول اودارمانونو دکه څولي يې دګورملګرې شوه

اوهغه ژوندي ورك...

خوعجب خان ورنه ژوندي ووت ،کله چې يې خپل سر راپورته کړ ګورې چې دده شاوخواتوپونو او ټينکونو محاصره کړی او پاس به هواکې جهازونه ګرځي ځان يې هماغلته خوندي کړ لږه شيبه وروسته دېرغلګروورته پام شو توپکوته‌يګولې تيرې کړ ی او غربي ورته وکړ لاسونه جګ کړه ونه خوځيږي ! دی لا لاسونه نه وو خوځولي چې يرغلګرو پرې ورمنډه کړه اودکونداغونو ګوزارونه پرې وکړه توپك دې وښايه ، عجب خان تر وهلو لاندې ناری وهی چې دخدای په لحاظ زه کوچی يم ميرې مې دی ځای ته راوستي يې جهازونو پرې بمونه واورول اوهغوی يې دځمکې سره يوکړی ماسره به غيرڅپيلي بل هيڅ شي نشته ... عجب خان په خاورو کې پروت وو وروسته يرغلګروهغه دټينګ دپاسه کښيناوه او روانه يې کړ. اوغوښتل يې چې بيا يې دعسکري خوانه سوق کړي که هغه هرڅوويل چې مور خو کوچيان يو پرمور باندې عسکري نشته ددې خبرې سره جوخت بيا پرې د کونداغونوګوزارونه شروع شو ل ......

پدې وخت کې زرځانکې دوډۍ له ځانه سره اخيستي او خپله پنځه کلن ماشوم‌يې لوربې هم مخکې کړی او دعجب‌خان دځای لورې ته روانه وه په لاره کي‌يې‌دي سوچ کې ډوبه وه چې څنګه چې داښتيازی په عجب خان باندې نه وي شوي !!! ګوري چې ليرې دټينکونو ليکې روانې دي خپل ځان يې دلارې برغاړه يوه جومات ته ورساوه ، لورئ په ژړاشوه موري راغله ! په ژړغونې اوازيې وويل:هغوی مو وژني .....! موري ورته وويل: لوری چپ شه ! دې وخت کې ټينکونه نژدې شو عجب خان دټينګ دپاسه کښينول شوی ؤ ګوری چې دجومات تر څنګ دهغې ورکي لور دهغې دميرمنې سره ناسته ده عجب خان په جګ اواز غږ کړ: لورې !!! پدې وخت کې زرځانکه ودريده ګورې چې په

په (۶) مخ کې

سبا به بياكېږي . . .

اواتلوليو اړخونه په ډير شاعرانه اوادبي ښه منعکس شوي دي .

کله چې لوستونکي په کتاب کې د«سبا به بياکېږي باريږي »اوهغه هم ترانه نوميده ســـــ کيسي لولي سترګوته يې دوحشي روسانودلاسه زموږپرولګرو دظلم ، تيرې ، وژنې ، لوټمارې اووحشيانه حملې دريږي .

د«قانع»صيب لنډې کيسې زموږددريدلې ،خپل شوي اومظلوم ملت ددردونو ، زګيروير اوويارونو غږ دې چې زموږپر مسوليتو اودوستانو يې کوي اودبي دريغه قربانيو په بدل کې دوفا ټمه ترې لري .

د«قانع» صيب لنډې کيسې سربيره پردې چې زموږدجهاد په ادبي بڼ کې يوه غوره اضافه ده زموږدجهادژوندي تاريخ هم دي .

موږ«قانع » صيب ته ددې کتاب دخپرولو مبارکي ورکوو اودلوی خدای (ج) دربارته دده دلابرياليتوب دعا کوو.

افغانانو ثابته کړه چې...

خو هغه چاچې خاص دخدای (ج) درضا ،اعلای کلمة اللّه ،دالحاد اوفساد دله منځه وړلو اوپه افغانستان کی دیو ریښتنی اسلامی حکومت دجوړولو لپاره وسله وال جهاد پیل کړی هغوی به هیڅکله هم دی ته غاړه کښیږدی چی له هغو کمونستانو سره چی دافغانستان دمؤمنوخلکوپه مقابل کی یی له هیڅ ډول جنایت څخه ډډه نه ده کړی ،تر یو نیم ملیون زیات افغانان یی په شهادت رسولی په لکونویی معیوب کړی، ترپنځو ملیونو زیات یی په هجرت کولو مجبوره کړی اوټول افغانستان یی ویجاړ کړی دی له هغو سره ګډ اوائیتلافی حکومت جوړکړی . هغوی دکمونستانو په دی دومره جنایاتو کله سترګی پټولی شی چی هغوی بی محاسبی اوبی محاکمی پریږدی .

موږهغو خلکو ته چی که له نجیب سره اویا دهغه له بادارانو سره پټ سازشونه کوی او ډول ډول طرحی ورسره منی داپه ډاګه وایو چی هرهغه حکومت چی دروسانو په خوښه په افغانستان کی راځی هغه به عیناً دتره کی ، امین ، ببرك اونجیب دګوډاګی رژیمونو په شان وی له هغو سره به دومره توپیر لری چی له هغوی سره روسان ترڅنګ ولاړ وو اوس به ددغه حکومت ترشا ولاړوی .لکه چی پر هغومخکنیو رژیمونودملت باوراواعتماد نه وه ، دهغه درانسکورولو او له منځه وړلو لپاره یی جهاد کاوه همداسی به دغه رژیم هم بی اعتباره اوپر ضد به یی وسله وال جهاد ادامه ولری .مخلص مجاهدین په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس دجوړشوی اسلامی حکومت څخه پرته بل هیح ډول حکومت نشی منلی

پوښتنه : دافغانستان دراتلونکی لپاره دیو واحد قیادت اویوی واحدی اداری جوړولوپه هکله ستاسو په نظر کومه طرحه عملی اواسانه ده .

ځواب : سره له دی چی په اوسنیو حالاتو کی دواحد قیادت په اړه پیشبینی کول مشکله خبره ده ، دلته له یوی خوادجهادی تنظیمونو دمشرانو ترمنځ اختلافات موجود دی اویوبل ته له قدرت نه سیربری اوهلته دروسانو مزدوررژیم لا په ځای پاتی دی .

خوبیا هم دیوواحدقیادت درامنځ ته کیدو لپاره زما په عقیده یولاره داده چی علماء مجاهدین اوقوماندانان سره متحد شی اوپرجهادی مشرانوباندی فشارراوړی چی خپل منځی اختلافات پریږدی له خپل منځ څخه یوواحد قیادت رامنځ ته او ټول یی اطاعت وکړی .

په نوره نړۍ کی هم دادستوردی کله چی سیاسی مشران اولیډران پخپلو منځو کی داختلافاتوله کبله ددولت په چارو کی بی نظمی رامنځ ته کړی اوپه یوواحد قیادت نه راټولیږی ، پوځ اواردو دهیواد دبهبود اوملی منافعو په خاطر مستقیماً مداخله کوی چی دامداخله اکثر دکودتا په بڼه وی اودهغی په نتیجه کی پر ټولوسیاسی لیډرانو فشارراوړی چی هغه واحد قیادت ومنی اواطاعت یی وکړی . زموردجهاد په اوسنی حالت کی چی جهادی مشران په اختلافاتو اخته دی قوماندانان مجبوردی چی دیو داسی اقدام له لاری جهادی مشران دی ته اړکړی چی واحد قیادت ومنی . دواحد قیادت درامنځ ته کولو لپاره بله لاردشرعی اصولو سره سم انتخابات دی خو په اوسنیو حالاتو کی چی دانتخاباتو عملی کول مشکل ښکاری .

گرسنگی ملت هاي روسیه...

کاهش تسلیحات هستوی ان همه زرادخانه های روسیه که به قیمت بدبختی های فراوان مردم شوروی ساخته شده بودیکی پی دیگری خنثی وازبین برده میشود اما انچه باقی مانده اثرات بسیارذلت باربرای سیستم کمونستی روسیه که همان قحطی است میباشد .

درنظام منحط کمونستی برای فریب واغوای مردم درصدرهمه وعده های دروغین «نان» عنوان میگردد اما امروزکه نقاب ازچهره وحشتناك کمونیزم برداشته شده دیدیم که همه مردمان دورسفره این سیستم درفاقه گی بسر برده واکنون هم شدیدا بان روبرواند.

رهبران کرملین امروزبیشرمانه به صراحت اعلام می کنند که ملت شان گرسنه است وملت خودراازنگاه مواد غذایی تامین کرده نمیتواند وبخاطرتوجیه قحطی موجود که درحقیقت ازسالهاست که درکشورهای کمونستی ودرنظام کمونستی وجود دارد دلایلی چون نواقص درنظام اداری ویا توزیع ویا هم تولید راارایه می دارند .

مغازه های شهرهای بزرگ روسیه خالی ازمواد غذایی بوده وهمه پاك کاری شده منتظر درسیدن مواد غذایی ازجهان غرب است ورهبران کرملین نیزبهرسودست خیر طلبی وگدایی درازکرده اند.

المان غرب تاحال بخاطررفع بحران درشوروی بیش ازدوصد تن مواد غذایی رابه شوروی فرستاده است همچنان صدربوش نیزوعده داده است که باوارد نمودن تغیرات درقانون منع صادرات به روسیه، مبلغ یك میارد دالر رادراختیار روسیه قرارخواهد تابواسطه ان برای مردم قحطی زده روسیه مواد غذایی خریداری گردد علاوتاً امریکا متعهدشده که روابط شوروی و موسسات اقتصادی مهم جهان راتامین خواهد کردتا با استفاده ازان روسها بتوانند خودراازمضیقه فعلی نجات دهند انچه دربالای روابط امروزی شوروی وامریکا دیده میشود یك صمیمت درحال انکشاف بین این دوکشورمیباشد امریکا خوشنوداست که شوروی گام به گام باشکستی قاب کمونیزم بطرف بازارازاد ، انتخابات ازاد ودموکراسی میرود وامریکا که سخت منتظر فرصت بود لقمه کلانی راندهان روسیه گذاشته تابتواند بخاطربودن منابع دست نخورده درانکشورسرمایه گذاری نماید.

امریکا که روزگاری چنین یك روزوفرصت طلایی راکه کارتل ها وتراست های این امپراطوران سرمایه امریکایی بتوانند نبض اقتصادی روسیه رادارا نماید درخواب هم نمی دید واکنون ازفرصت بدست امده بدقت وبه مهارت ایکه دربهره کشی دارد کارمیگیرد .

نظام کمونستی روسیه که درحال نزول وانحطاط است باخود سری ها واعلام ازادی جمهوری ها وسایر عوامل اجتماعی سیاسی واقتصادی درگرداب کشمکش خردکننده درگیر بوده نمیتواند از حادثه حتمی «تجزیه امپراطوری سرنیزه وظلم کمونستی» به هیچ شکل جلوگیری نماید .

شکست نظامی درافغانستان وعقب نشینی مفتضحانه سیاسی وایدیالوژیکی دربخش شرقی اروپا که روزگاری بود و نبود ان بمثابه حیات دستگاه کمونستی درشوروی محسوب می شد همه بیانگروشواهد تجزیه جبری کمونیزم این پدیده گندیده وپوسیده تاریخ میباشد .

اوجگیری جنبش های ازادی خواهی درجمهوری های شوروی که ظالمانه وجابرانه تحت حاکمیت کمونستی وهژمونستی روسیه قرارگرفته اند نمونه ها ازادامه پروسه تجزیه «امپراطوری سرنیزه وظلم» کمونستی میباشد وبهرشکلی که باشد این پروسه تامحو کامل چوکاتی که کمونست ها برای حاکمیت خویش برمردمان وکشورها ساخته بودند جریان پیداخواهد کرد .

جای تعجب اینست که دستگاه کمونستی روسیه که بخاطر تامین غذایی مردم خویش دست به گدایی درسطح جهان دست زده یك مقداربزرگ این کمك رابه رژیم کابل این واپسین رژیم که به نوکری مسکو سخت وفادار است میدهد که سالیانه حجم این کمك به حدود چارملیارد دالر میرسد.

باید پرسید که ایا درین گونه شرایط که بمردم روسیه نان نمیرسد دست گیری ازیك نظام که نابودی ان اجتناب ناپذیر است نابخردانه وبی جا نیست ؟ ملت های روسیه شوروی ازدستگاه رهبری کرملین وگرباچوف باید بپرسند که تامین مردم شوروی ضروری است ویا کمك به یك رژیم درحال نزع؟ بحران کمبود مواد غذایی درروسیه بحدی جدی ودارای بعد وسیع است که بالاثر گرباچوف نتوانسته است بخاطر دریافت جایزه نوبل به ناروی برود .

وضع موجود ناهنجار درجامعه روسیه یکبار دیگرمیان تهی بودن نظام کمونستی وهیچ وپوچ بودن مفکوره مارکسستی رابه جهان چون افتاب روزروشن هویداساخت.

بناء میتوان اینگونه نتیجه گیری نمود گرسنگی که امروزملتهای روسیه بان مواجه اند نمودغارت تمام سرمایه های ملی انکشورتوسط حاکمان کمونست درکرملین میباشد

...اوهغه ژوندي ورك...

خاوروړلی عجب خان دیرغلګرو په لاس پریوتی ، په ناروسر شوه چی دخدای لپاره موږه کوچیان یو ! زماخاوند خوشی کړی ! او ماشومه لوربی هم دخپل پلارپه لیدو په واویلاشوه خویرغلګر راهی شو او هغوی یی په چیغو پرینښوده.

عجب خان یی راوست او دعسکری دپاره یی جبری سوق کړ او دعسکرو په تجمع کی یی دطیاری دراتلو پوری واچاول ترڅو هغه یوه لیری ځای ته دعسکری لپاره ولیږی .سهار وختی زرځانګه خپلی ماشومی لور سره دښار خواته رهی شوه او دیوه او بل نه یی پوښتنه کوله ترڅوچی دهغه ځای یی پیداکړکله چی عجب خان یی په تجمع کی ولید دسترګونه یی داوښکو دریابونه پریوتل ماشومه لوربی هم په ژړاشوه بیاعجب خان زرخانګی ته مخ ورواړاوه او ویل چی موږ یی دلته ټول کړی یو ا و بیامو کوم لیری ځای ته بیایی ،

زرځانګه نوره هم په غمونو کی ډوبه شوه لیره شیبه ناسته وه وروسته له دروازی څخه ووته او دباندی دیوالونی سیوری لاندی دخپلی ماشومی لور سره دغمونو په بهیر کی ډوبه ناسته وه هماغسی خوب وړی وه خوب کی ټکنی شانتی شوه پاسیدو ګوری چی لوری نشته یوی خوا بلی خواته ځی سرګردانی منډی رامنډی ووهلی خو دماشومی لوری هیڅ درك ونه شو زرځانګه بیرته دعجب خان خواته رغله ګوری چی عجب خان یی دطیاری خواته رهی کړی او کوم لیری ځای ته ځی بیایی ډیری ژړاګانی او واویلاوی یی وکړی خوچاوانه وریدی عجب خان یی بووړاو زرځانګه دغمونو په دنیاکی یواځی پاتی شوه او له ځانه سره وایی چی خدایه عجب خان داسی ورك شو ماشومه لور می هم تر اوسه ورکه ده ....

یوه شیبه بیا ښکته پورته دخپلی لور په لټه کی شوه خو هغه یی پیدانه کړه نو بیرته دکورخواته رهی شوه شپه ترسهاره یی په ویښه دغمونو په سمندر کی پخپله کوډله کی تیره کړه سهاروختی بیا دښار خواته دخپلی ماشومی لور دلټولو په نیت روانه شوه په لاره دیرعسکروجهازونو پری بمونه وښیدل او دهغی دغوښو ټوټی یی په هوا والوزولی .

هوکی! عجب خان ژوندی ورك شو... وړوکی لوربی ورکه شوه .... او زرځانګی دتل لپاره دغمونو ډکی دنیا نه سترګی پټی کړی.

شف ، شف اخر شفتالو شو ...

دی مسٔلی ته لږڅه ځیر شو اوله شعاری خبرو لوړه واقعیتونو وغږیږو نو زموږ د «۱٦» لکو شهیدانو په وینو گټلی دافتخار او ویاړ ځلی په داسی یوه حساس او نازك مقام دریدلی چی نور نو یوه شیبه غفلت بی پروایی بی هدفی او ځانځانی گټی پالل هغه به خاوروراغورځوی او زموږ دمسلمان او شهادتپال ولس دوینو ستره قربانی دعیاشانو او فاسقانو دساقی په پیالو کی ورڅځوی،خوداخبره هم باید په یادولرو چی ددغو شهیدپال ولس او دلکونو شهیدانو میراث خواره دومره کمزوری،بی پروا او غافل هم نه دی چی نړیوال استکبار دی خپلو شومو اهدافو ته ورسیدای شی،ځکه له یوی خوا لله الحمدنور زموږ مجاهد ملت هغه ملت نه دی چی ظاهر شاه غوندی بدنام فاسد او عیاش حکمران قبول کړای شی او نه نور روس او امریکا هغه پرونی هیوادونه دی «بی غرضه!» . زموږ دشهیدانو په وینو رنگین هیواد اوس ددوومليونو تنو په شاوخوا کی وسله وال مومن او مجاهد پوځ لری ، هغه پوځ چی دسری امپراتوری پرتمنه بی دماتی او زوال داغ ورلگولی ، چی انشاالله دنړیوال ښکیلاك وروستی دسیسی او شومی نقشی به هم بی اثره او خنثی کړی خو په بیا بیا یادونه سربیره یوځل بیاهم دی حقیقت ته اشاره کووچی دکفر او طاغوت ټولی نقشی او دسیسی ترهغه وخته بشپړی ناکامی نشو گټلی ترڅو زموږ دمسلمان ملت په سطحه یو کلی ریښتونی او مخلصانه وحدت منځ ته نه وی راغلی.دښمن ته یوازی همدغه یوه هیله پاتی ده او ریښتیا چی زورروره هیله ده، که زموږ دملت او مجاهد قیادت له منځه د «اختلاف» کمزوری لری شی دخدای (ج) پرتوکل به دلویدیځ او ختیځ دطاغوتی ځواکونو دغه حربه او نوری ټولی حربی او دسیسی ناکامیږی او زموږمسلمان ملت به کوم خدای(ج) له دغه ستر ازموینت نه سرلوړی او بریمن راوزی په افغانستان کی دریښتینو مسلمانانو دبشپړ یووا لی په هیله.

قواي نظامي امريكا...

کشورهای منطقه ایجاد خواهد شد .

وقابلیت انرا خواهد داشت که درمواقع لازم به محلات لازم به سرعت رسیده بتواند وامریکا جداً میخواهد درین امردخالت داشته باشد.

وی علاوه نموده است اهمیت سوق الجیشی منطقه قابل تغیر نبوده وایالات متحده باهمکاری دوستان خود میخواهد انچه که بخاطر جلوگیری ازهمچواقدام صدام باشد به اجرا خواهد گذاشت. ●

طبق یك خبر دیگر دوتن ازمشاورین عالیرتبه ریاست جمهوری امریکا نیزخاطر نشان نموده اندهرگاه قوای عراقی ازکویت خارج شود امریکا ومتحدانش قوای خویشرا ازخلیج فارس خارج نمی نمایند.

انها گفته اند بعد ازخروج عراق، قوای امریکا درمنطقه تاهنگامی باقی خواهند ماند که ازجانب عراق به کشورهای کوچك منطقه تهدیدی وجود داشته باشد .

انها گفته اند که باید توازن قوا میان عراق وکویت ایجادگردد .

هدف ازایجاد توازن بهانه برای نگهداری قوای امریکایی درمنطقه بوده وثابت می سازد که امریکا به بهانه تجاوزعراق بر کویت قوای خویشرا درعربستان سعودی وخلیج فارس متمرکزساخته ونمی خواهد ازانجا برون رود .

اختلاف دجهاد ليكوته د ...

په موجوده عبوری حکومت دادی دوه کلونه واووښتل خو پدغو دووکلونو کی عبوری حکومت نه دجهادی ځواکونو دتوحید په لارکی کوم موثرقدم پورته کړای شو اونه دجهاد په سیاسی ډگر کی په یوه متحد دریځ سلا شول او نه هم په حکومت اوپه هغه کی برخوال اړخونه پخپلو تعهداتو ودریدل اوتیری لاداچی د یوی متحدپالیسی په میدانکی هم دمشکلاتو ښکاروگرځید .

همدغه کمزورتیا اوخلا دانقلاب لیکوته دشرق اوغرب داستعماری توطئو دنفوذ لاره پرانیستی ساتی اودښمن ته ددی امید اوفرصت په لاس ورکوی چی خپلی توطئی جاری وساتی اودانقلاب دبری په لارکی هروخت ډول ډول ستونزی اوخنډونه رامنځ ته کړی .

داخلاچی څومره ژر ډکیدی شی همدومره انقلاب دبری سرمنزل ته ورنژدی کوی اوڅومره چی دغه خلا او نیمگړتیا په ځای پاتی کیږی اوددانقلاب پر ضد له روانو توطئو اوگواښونوسره مرسته کوی .

په موجوده حالاتوکی چی جهادی ځواکونو اولیکی دوحدت اوجنگی مشترکی ستراتیژی له پاره دقوماندانانو دسرتاسری شورا له خوا کوم بریالی حرکت پیل شوی داهغه وروستی فرصت اوچانس دی چی انقلاب ولس ، جهادی تنظیمواوقیادتونو دشرق اوغرب دروانو توطئو اومانوروله تهدید اومنگولو څخه ژغوری ځکه همدا حرکت هغه عملی مؤثر اوپه حالاتو مسلط اودخیل قوت دی چی په مستقیمه توگه یی له ولس سره تړون ټینگ پاتی دی اووضعه یی په بشپړه توگه په کنترول کی ده ، ځکه دادقیادتونو له پاره هغه وروستی فرصت اوچانس دی چی لدی لاری خپلی ستونزی اومشکلات حل کړی اوداحرکت دولس دکلی اوسرتاسری اتحاد- په لارکی تائید اوملاتړیی وکړی

په سلگونو تنه هندي ...

لاهوردقوس (۲٤) :

دپاکستان معتبرازانسونو رپوټ ورکړی چی په سلگونوتنو هندی مسلمانانودهندوانو دظلم اووحشت له امله دپاکستان دلاهوربنارته هجرت کړی .

همدارنگه ویل کیږی دهند داترپردیش اندهراپردیشاونوروسیموکی دمسلمانانواوهندوانو ترمنځ نښتی لازیاتی شوی.

دكمبوديا د ...

دکمبودیا دمقاومت ددریو ډلو څخه شپږ استازی برخه لری .

دکمبودیا دجگړی څلوروډلو په پرنسیب کی موافقه کړیده چی شهزاده سهانوك به ددغی شورا درئیس په توگه وټاکی اودملگرو ملتونو دامنیت شورا هم ورسره منلی ده .

دینوم پن صدراعظم هون سنگ غوښتنه وکړه چی دسهانوك دمرستیال وټاکل شی خودغه خبره دکمونست سره خمیراوښی اړخ نښنلستانو له خوا ونه منل شوه .

قرغزستان استقلال خـــودرا

داده اند که پارلمان قرغزستان فیصله نموده تاازنام ان جمهوری کلمات سوسیالیستی وشوروی حذف گردیده ومنبعد بنام جمهوری قرغزستان مسمی گردد.

سایر جمهوری های شوروی دراوایل سال روان ازادی خود را اعلام نموده اند واکثر جمهوری ها قوانین خویشرا والاتر برقوانین شوروی دانسته وبر منابع محلی کنترول خویشرا تحکیم نموده اند.

بنگله ديش ...

انتخاباتو لپاره ځانونه تیاروی یوی خواته دمجیب الرحمن لورحسینه واجد چی دخپل پلارنیمه خواپروگرامونو دتکمیل جنډی یی په اوږه کړیده اوهمدغه ډله ده چی هندوان یی هم ملاتړکوی ، دهنددحکومت نیکی هیلی هم ورسره ملی دی ، چی په انتخاباتو کی یی پله درنده غوندی ښکاری .

بل لوری ته دبنگله دیش دخلکو گوند دخالده ضیا په مشری داتو گوندونو اتحاد دی ، په دغه اتحادکی چی دمرحوم جنرال ضیاالرحمن ماندینه یی درهبری چاری په غاړه لری

دبنگله دیش هغه ډلی اواشخاص راتلل دی چی دیوه خپلواك اودهندونیزم له اغیزی نه بهربنگله دیش په خیال کی دی ، دریم قوت چی ترډی راوروسته دبنگله دیش په دوواتحادونو نه ډیر منظم دی راتلونکی سیاست کی څه خونفوذ ی بیادمختلفو عواملو اثرغورځولی شی دبنگله دیش له امله لرډی بیا هم که دخالده

> دريم قوت چي ترډي وروسته دبنگله ديش په راتلونكي سياست كي څه اثرغورځولي شي دبنگله ديش جماعت اسلامي گوند دي ، كه څه هم دغه گوند تربورتنيو دوواتحادونو ډير منظم دي خونفوذ يي بيا دمختلفو عواملو له امله لږدي

ضیا په مشری دخلکو گوندله جماعت اسلامی دی ، که څه هم دغه گوند تربورتنیو ائیتلاف سره کومه اتحادی

انتخابی پروسه په مخکی ونیسی کیدای شی دبنگله دیش راتلونکی څه ناڅه روښانه اوددغه هیوادد مظلومو پرگنو پرگټه وی وگوروچی په راتلونکی کی بنگله دیش له روان دایمی کشمکش نه دامن اوثبات ساحل ته وزی اوکه خدای (ج) مه کړه دهندوسامراج په ډنډ کی په دلا زیاتو مصیبتونو اوجنجالونو په لورورښکیل شی.

موج جديد بگير...

مجاهدین بازداشت شدند .

درخبر امده است که تعدادی از این شمار دررابطه به انفجار ماین درنزدیك دفتر کارنجیب رئیس حکومت کابل که چندی قبل صورت گرفت ودستگیر شده اند رژیم برین گروپ ازافراد اتهام وارد نموده است که انها مبلغ بیست ملیون افغانی راازمنابع جهادی بخاطر ترورنجیب بدست اورده اند.

خبرگزاری «میدیا» ازقول خبرنگار خودعلاوه میکند گروپ دوازده نفری صاحب منصبان شفاخانه دوصدبستر بشمول ځارندوی یکعده ازدوکتوران شفاخانه چارصد بستر اردو نیزبه اتهام همکاری با سازمان جهادی (شفا) که گروپ فعال چریکی درشهرکابل است توقیف شده اند.

رژیم برین گروپ ازدوکتوران همچنان اتهام وارد نموده است که انها درکشتن وقطع عمدی دست وپای مجروحین نظامی رژیم دست داشته اند .

خبرنگار علاوه نموده است که دستگاه خاد لست چارهزار تن دیگر ازاشخاص (گویا) مشکوك راترتیب نموده است که با استشاره امرای رژیم دستگیر ومحبوس خواهند شد

اختلاف دجهاد لیکوته د ...

ګومان ددغو نویو بریالیتو بونو مخه ونیسی او ددغه حرکت موثریت ته صدمه ورسوی.

دنړیوال استکبارګډ سازشونه کله نجیب دژینو اوتهران په سفرونو ولیږی اودنړیوال ذهنیت دمغشوشولو هڅی پیل کړی اوکله هم دظاهرشاه دزاړه رباب په شلیدلوتارونو ګوتی ووهی اودمرستو اوسکرتریت دافتتاح تبلیغات ورته پیل کړی او له دې سره دنجیب په خوله دااعلان وکړی چې باید دخلق پرچم دباندونو غړی په تیرو جنایاتو اوخیانتونو محاکمه نشی اوداخبره ظاهرشاه ته دحکومت پریښودلو دشرط په توګه مطرح کوی . . .

تراوسه په هیڅ ځای اوهیڅ یوقانون کې ددې خبرې ځای نشته چې له یوه جنایتکاراومجرم سره دی دهغو دخاٸنانه کړو وړومحاسبه ونشی لدی څخه داپه ډاګه کیږی چې دادهغو مذبوحانه هلو ځلو اومانورویوه کړی ده چې غواړي لدې لارې دجهادپه اړه نړیوال ذهنیت مغشوش کړی.

په حقیقت کې داجریان دروس امریکا دواړو داهڅه ده چې دهغی وروستیو طرحی دعملی کیدو زمینه اوشرایط برابر کړی چی ددوی داستعماری اهدافو سره اړخ لګولی شی. دغه وړتوطئیو اومانوروچی پدی وروستیو کې کومه نوی بڼه نیولی ده له دی څخه په ډاګه څرګندیږی چی نړیوال استعمارپه افغانستان کی داسلامی انقلاب له بری اوداسلامی حکومت له قیام څخه څومره ویره لری.

نړیوال استعمارپه افغانستان کی داسلامی انقلاب بریالیتوب نه یواځی داچې په سیمه کی یی دخپلو استعماری اهدافو په وړاندی یوسترګواښ ګنی بلکې په نړیواله سویه یې دیو داسې جهانی غورځنګ اوحرکت په توګه پیژني اوهمدا غورځنګ داستعمار له زولنو څخه دولسونو دآزادی څرك اوسبا وون هغه ګنی چی خپل شرمیدلی انجام پکې له ورایه ورته ښکاری.

که څه هم موږپدی باوری یو چی دافغانستان مجاهد ولس دانقلاب په جریان کی داستعمارحربی، مانوری اوتوطئی ښی پیژندلی اودرك کړی دی اوله څیرو سره ښه اشنایی لري، ځکه خوددغو ټولو بین المللی سازشونو اوتوطئو سره سره دوی خپل جهاد اومبارزه جاری ساتي. خویوه خبره چی ددقت اوتأمل وړده هغه ددغه ډول توطئو اومانوروپه وړاندې دقیادتونو سوړبرخورد اوهغه ضرورت اودحالاتو جدی غوښتنی ته نه پاملرنه ده چې زموږ دانقلاب ته یې شدیدی ضربی ورکړی دی.

دروسانو له نظامی شکست وروسته موږیوه پاخه سیاسی موقف اوقوی ارګان اونظام ته ضرورت درلود یو داسی نظام اوموقف ته چې له هره اړخه دقبول وړوای اوددی توان یی لرلی چې هم دولس له آرمانونو اودجهاد له اهدافو سره متعهد پاتې شی اوهم نړیوال پخپل کفایت قانع کړای شي خوله بده شامته داسی ونه شول.

(۷)مخ کی

دکشمیر مجاهدینو دیوي حملي په ترخ کي (۱۱۰) تنه هندي پوځیان ووژل

سرینګردفوس (۲٤): دنیول شوی کشمیردمتحدی جبهی دکاروان حیدرخانګی مجاهدینو دیوی حملی په ترخ کی (۱۱۰) تنه هندی پوځیان وژلی د(۱۵۰) څخه زیات یی ټپیان کړی او(۱۰) موټریی دراکټ په وسیلي له منځه وړی.

ویل کیږی ددوی ترمنځ نښتی (۱۰) ساعته دوام وکړاوپه ترخ کی‌یې‌ددری ګروپونو دقوماندانانو سربیره (۲٤) تنه مجاهدین شهیدان شول.

دهئیت تحریر ترنظر لاندي
مسوول مدیر: شهرت «ننګیال»
مرستیال: سیدمحي الدین «هاشمي»
مکاتباتي پته: پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاؤن پیښور
تیلفون ....(٤١٧٤٦)...

داروپا داقتصادي ټولني غونډه دیوې اعلامیې په صادریدلو سره پای ته ورسیده

دنړیوالو خبری اژانسونو په حواله ویل شویدی چی داروپا داقتصادی ټولنی عالی غونډه چی ددولسو هیوادونو مشرانو په ګډون دایټالیی په پایتخت روم کی جوړه شوی وه دیوی قوی اعلامیې په صادرولو سره پای ته ورسیده.

پدی اعلامیه کې دعراق څخه غوښتنه شویده چی دکویټ له خاوری څخه ووځی. اروپایی ټولنی څرګنده کړه: دفارس دخلیج دکړکیچ دسوله ایزحل لپاره لازمه ده چی عراق په بشپړه توګه دکویت څخه ووځی اودکویټ قانونی حکومت بیرته پر ځای کړل شی.

همدارازداروپایی ټولنی مشرانو له روسیې سره دیو ملیارد ډالرو په اندازه دعاجلو خوراکی اوطبی موادومرسته هم منظوره کړه.

برسیره پردې نوموړی ټولنې په پرنسیب کی موافقه وکړه چی له شوروي سره به دیوملیارد اوڅلورسوه ملیونه ډالروپه ارزښت تخنیکی مرستی کوي.

دوی په خپله وروستۍ اعلامیه کې ژمنه وکړه چې داقتصادی اوسیاسي ائتلاف په لوربه ګامونه اخلي.



په خوست کی د«ګلم جم» دری تنه دخپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی دی

میرانشاه، دجهاد هنداری خبریال: دسلمان فارسی (رض) له غونډ څخه په راغلی رپوټ کی ویل شوی چی په ۲٤/۹/۱۳۶۹نیټه دخوست دیډرملکه په سیمه کی دګلم جم له پوستو څخه دری تنه دنوموړی غونډ مجاهدینو ته تسلیم شوی دی.

نوموړوعسکروله ځان سره یو راکټ لنچر، یوه ګرونوف ماشینداراویومیل کلاشینکوف راوړی دی.

په خبر کی ویل شوی دی چی دنوموړوتسلیم شویو عسکروله وینا څخه داسی معلومیږی چی ددښمن دقواوزیات شیمر افراد چی جبراً جګړی ته سوق شوی دی، په دی لټه کې دی چی دموقع په ترلاسه کولو سره مجاهدینو ته راشی، خو دپوستو اوپوځی مرکزونوشاوخوا دپرسونل ماینونو ویرې اوکلکی څارنی په دې لارکی څه ناڅه خنډونه اوځنډونه رامنځ ته کړي دي.

په سلګونو تنه هندي مسلمانان پاکستان ته په هجرت مجبورشول

(۷)مخ کی

لیاقت بلوچ:

داسلامي اتحاد حکومت به له ...

چی پاکستان کی دی خپل دفترپرانیزی اواوس لګیا دی دپاکستان پر حکومت فشاراچوي چی دافغانستان په اړه دامریکا اوروسیی دحل پروګرام ته غاړه کیږدی. هغه زیاته کړی: خوامریکا باید پردې وپوهیږی چی اسلامی جمهوری اتحاد به دمجاهدینو سره بې وفایی ونکړی اودافغانستان مسله دمجاهدینو دیوه اسلامی حکومت دجوړیدوپرته حل کیدلی نشی، په همدې خاطردی چی نوازشریف دپاکستان صدراعظم دبهرنیو مرستو دبندیزو وروسته یوواربیا پر خپل دریځ ټینګاروکړ چی موږبه دبهرنیومرستو په بدل کی دخپل دریځ څخه وانه وړو.

مجاهدینو دکابل په ...

درارسیدلو رپوټونو له مخی ویل شویدی چی اتلو مجاهدینودپراخو بریدونو په ترخ کی دکابل په جنوبی برخه کی دګوډاګی رژیم اته مهمی پوستی نیولی دی.

په رپوټ کی څرګنده شویده چی ددی بریدونو په لړ کی دکابل رژیم قواو ته دسراومال سخت زیانونه رسیدلی دی.

همدارنګه دمجاهدینو په یوه بله حمله کې چی بګرام په هوایی ډګر ترسره شوه ددښمن (۵۷) تنه عسکر هلاك اویاټپیان شویدی.

برسیره پردې زیات شمیر وسلی اومهمات دزړورومجاهدینو لاس ته ورغلی دی.